BAR STANDARDS BOARD

REGULATING BARRISTERS

## *آیا تاسې د مهاجرت او پناه د ستونزو په حواله مرسته غواړئ؟*
## *هغه څه چې باید پرې خبر یاست*

که تاسې د خپل مهاجرت او پناه د ستونزې په حواله مرسته لټوئ نو دا لاربنود تاسې لپاره دی. خبرې چې دلته تشریح شوې دي:

- بېلا بېل خلک او موسسې چې تاسې سره د مهاجرت/پناه په چارو کې مرسته کولای شي،
- د خپل کېس یعنې دوسیې لپاره پکې تر ټولو غوره څرنګه خوښ کړئ،
- او خپلې دوسیې لپاره یې نیولو وروسته ترې څه هیلې باید ولرئ؛ او
- که څه کیسه ورانه شوه نو څه کولای شئ.

## څوک مرسته درکولای شي؟

بېلا بېل خلک او موسسې شته چې تاسې ته د ستاسې د دوسیې په اړه سلا درکولای یا مو نمایندګي کولای شي. دغه د 'پرووایډرز' یعني خدمت ورکوونکو په نوم یادېږي. یو 'خدمت ورکوونکی' یو سلاکار یا وکیل وي چې په برېتانیه کې خلکو ته د مهاجرت د سلاوو او خدمتونو وړاندې کولو اجازه لري.

ممکنه ده چې تاسې خپلې دوسیې په لړ کې مرستې لپاره هېڅ خدمت ورکوونکی وه نه نیسئ. که غواړئ بل څوک درسره د دوسیې په حواله مرسته وکړي نو دا لاربنود د ستاسې د مرستې په موخه لیکل شوی. لاندې د بېلا بېل ډوله خدمت ورکوونکو نوملړ تر څو پکې تاسې لپاره تر ټولو غوره خوښ کړئ.

| د خدمت ورکوونکی ډول | څه کار کوي | د شرایطو تشریح یې |
|---|---|---|
| **د مهاجرت سلاکاران** | • د مهاجرت سلاکاران تاسې ته د مهاجرت د قواعدو په اړه مشوره درکولای شي.<br><br>• ځینې پکې یواځې د ساده **عریضو** په حواله مشوره او مرسته درکولای شي.<br><br>• بیا ځینې نور زیاتې پېچلې عریضې ترسره کولای شي او په **محکمې په مجلس** کې د ستاسې **نماینده‌ګي** کولای شي.<br><br>• سلاکار نیولو نه وړاندې خامخا وګورئ چې دی د څه چارو د کولو اجازه لري.<br><br>• د مهاجرت د سلاکارونو د چارو **څارنه** د مهاجرت د خدمتونو د کمشنر یعني د امیګرېشن سروسز کمشنر (او آی ایس سي)لخوا کیږي- چې د او آی ایس سي لخوا تصدیق شوي سلاکاران بلل کیږي.<br><br>• د مهاجرت سلاکاران په دریو بېلو کچو راجستر (د کار اجازه ورکړل) کیږي، چې د کچې تکیه د سلاکار د کار په ډول او پېچلتیا باندې وي. | • **عریضې** هغه فورمې دي چې تاسې یې په برېتانیه کې د استوګنې د حق په لړ کې څه غوښتنه، لکه د پناه غوښتنه، وړاندې کولو لپاره ډکوئ.<br><br>• **نماینده‌ګي** هغه خدمت ورکوونکي ته وایي چې قضایي مجلس (یا محکمې) ته د وړاندې کولو اسناد درله چمتو کوي او د ستاسې وکالت کوي.<br><br>• **ټرابیونل یا قضایي مجلس** هغه ځای دی چېرې چې یو قاضي د ستاسې په دوسیه پرېکړه ورکوي.<br><br>• **د او آی ایس سي لخوا څارل یعني ریګولېټ کیږي** مانا دا چې او آی ایس سي د مهاجرت د سلاکارانو لخوا د تعقیب قواعد جوړ کړي تر څو ډاډ وشي چې سلاکاران خپل کار ښه ترسره کوي او د ستاسې په حق کې په کار بوخت دي. |

| | | |
|---|---|---|
| **وکیلان** | • بریتانیه کې درې ډوله وکیلان د ستاسې د مهاجرت په دوسیه کې مرسته درکولای شي - عادي وکیل یعني سولسېټر، بیرسټر وکیل، او تصدیق شوی قانوني استازی یعني چارټرډ لیګل اډوایزر.<br>• د ستاسې په دوسیه او پکې پروت کار باندې تکیه لرې چې تاسې باید کوم ډول وکیل ته اړتیا لرئ.<br><br>موږ تاسې ته د وکیلانو د ډولونو په اړه نور معلومات درکوو: | |
| | **د وکیل ډول** | **د څارنې چارې-څوک یې چارې څاري؟** |
| **عادي وکیلان** | • عادي وکیلان تاسې ته مخامخ مشورې درکوي.<br>• دوی به تاسې سره ویني، د ستاسې په دوسیه به ځان پوهوي، اسنادي چارې به سموي او دوسیې سره تړلیو نورو خلکو سره به اړیکې نیسي.<br>• ځینې عادي وکیلان په محکمه کې دننه دوسیه وړاندې کولو اجازه لري، خو نور بیا ډېری وخت یو بیرسټر وکیل نیسي چې په محکمه کې دننه د دوی د موکل کار وکړي. | • عادي وکیلان د د عادي وکیلانو د څارنې امریت یعني د سولسېټر ریګولېشن اتهارټي (ایس آر اي) لخوا څارل کېږي او عادي وکیلانو لپاره قواعد غوره شوي تر څو ډاډ وشي چې سلاکاران خپل کار ښه ترسره کوي او د ستاسې په حق کې په کار بوخت دي. |
| **بیرسټر وکیلان** | • بیرسټران ځینې هغه کارونه، لکه مشوره ورکونه او اسناد جوړونه، ترسره کوي چې عادي وکیلان یې کوي.<br>• دوی په محکمې او قضایي مجلس کې د ستاسې نماینګي هم کولای شي.<br>• بیرسټران په عمومي توګه د کیس په زیاتو پرمختللیو پړاوونو کې منځ ته راځي یا که کومه دوسیه پېچلې ده. | • بیرسټر وکیلان د بار سټېنډر بورډ (بي ایس بي) د وکیلانو د بار د معیاراتو د بورډ لخوا څارل کېږي او بیرسټر وکیلانو لپاره قواعد غوره شوي تر څو ډاډ وشي چې دوی خپل کار ښه ترسره کوي او د ستاسې په حق کې په کار بوخت دي. |
| **تصدیق شوي قانوني استازي یعني چارټرډ لیګل ایګزېکېټیوز** | • تصدیق شوي قانوني د عادي وکیل ټول کارونه ترسره کولای شي.<br>• که تاسې د خپل کار لپاره د سولسېټر فرم ونیسئ، نو کېدی شي د ستاسې ځینې کار د چارټرډ لیګل ایګزیکټیو لخوا ترسره شي.<br>• تصدیق شوي قانوني استازي کولای شي چې مهاجرت لپاره د سایلکس کارمندانو ( CILEx (Immigration Practitioners اجازه نامه اخستو لپاره خواست ورکولای شي. دا په دې مانا چې دا کارمندان خپلواکه کار کولای، مهاجرت په اړه سلا مشوره او د خپلو فرمونو یعني شرکتونو له لارې خدمتونه ورکولای شي. | • تصدیق شوي قانوني استازي د سایلکس ریګولېشن لخوا څارل کېږي چې دا په دې مانا چې تصدیق شویو قانوني استازو لپاره قواعد غوره شوي تر څو ډاډ وشي چې دوی خپل کار ښه ترسره کوي او د ستاسې په حق کې په کار بوخت دي. |

اکثره خلک چې مهاجرت یا پناه په هکله قانوني مرسته غواړي یو سلاکار یا عادي وکیل ته ورځي. دا زده کولو لپاره چې غوره نماینده څرنګه باید انتخاب شي پاڼه 3 وګورئ.

### په محکمه یا قضایي مجلس کې بیرسټر

که د ستاسي دوسيه بايد محکمي يا قضايي مجلس ته انتقال شي، (لکه، ځکه چي د ستاسي د پناه خواست رد شوی او تاسي يې په ضد اعتراض يعني استناف کول غواړئ) نو تاسي ته به د بېرسټر وکيل اړتيا وي، تر څو ستاسي لخوا دفاع وکړي.

که تاسي يو عادي وکيل يعني سالسېټر يا سلاکار لرئ، نو هغه کولي شي تاسي لپاره بېرسټر وکيل ونيسي (پام بايد وکړئ چي او آی ايس سي په سلاکارانو کي يواځي د ليول 3 کچي يو سلاکار کولای شي چي محکمي/قضايي مجلس لپاره بېرسټر وکيل ونيسي). يا تاسي يي پخپله ځان له نيولای شئ. دې ته **'عامه رسون'** وايي. که د ستاسي د عامه رسون بېرسټر ونيسئ نو بايد يو څو کارونه ترسره کړئ، لکه نورو (لکه محکمي) ته اسناد ورکول، ځکه چي يو بېرسټر دا کار نشي کولای. ډاډ وکړئ چي له بېرسټر پوښتنه وکړئ او تري تشريح وغواړئ چي بېرسټر څه څه درله کولای شي او تاسي پخپله بايد څه وکړئ.

هر يو بېرسټر د 'عامه رسون' په کټګوري کي نه وي. د يوه د موندلو لپاره د 'ګټوري اړيکي' عنوان وګورئ.

## د قانوني مشاور پيسي ورکول

اکثره خدمت ورکوونکي يعني قانوني مشاورين د مشورو په بدل کي پيسي اخلي، او هغوی په خپله خوښه د نرخونو ټاکلو اجازه لري. په ډېرو بېلګو کي، د بېرسټر فيس او عادي وکيل د فيس په شان وي. تاسي کولای شئ چي د يو وکيل د غوره نه وړاندي بېلو بېلو سره خبرې وکړئ او فيسونه يې پرتله کړئ. له نيولو وړاندې ورسره خبرې وکړئ چي څومره ډېر ځله او کله به فيس ورکوئ.

**که تاسي د قانوني سلا او نماېندګی پيسي نشئ ورکولای، تاسي کېدې د وړيا قانوني مرستي وړ ياست.** قانوني مرستي مانه دا چي دولت به د ستاسي د قانوني مشورو او د نماېندګي خرڅ په غاړه اخلي، خو دا يواځي يو څو ځانګړی ډول دوسيو لپاره ورکړل کېږي، لکه د پناه غوښتني دوسيي او استيناف، د کورني تاوتريخوالي يا د انساني قاچاق او بندي ساتني معاملي وي او د ضمانت دوسيي. خپل قانوني خدمتګار نه خامخا تپوس وکړئ چي ايا تاسي ته مرستندويه قانوني سلا يعني وړيا قانوني سلا ترلاسه کېدې شي، يا په خپله د قانوني مرستي لپاره دولتي وېب سايټ کتلای شئ.

که تاسي قانونی مالي مرسته نشئ ترلاسه کولای نو د او آی ايس سي سلاکاران تاسي سره وړيا مرسته کولای شي. که تاسي يي پيسي نه لرئ نو د وکيلانو د تنظيم خېريه واحد يعني بار پرو بونو يونټ نه وړيا قانوني مرسته ترلاسه کولای شئ، خو بايد د سلا مشورې يو اېجنسي، لکه سټيزنز اډوايس يا کوم قانوني مرکز، يې تاسي سره د هغوی اړيکه جوړه کړي. په دې لړ کي مرستندويه موسسو او سلاکارونو د موندلو لپاره په پاڼه 6 د 'ګټوري اړيکي' عنوان لاندې معلومات وګورئ.

قانوني خدمت ورکوونکي نه د دوی د فيس په اړه د پوښتنو کولو په اړه معلومات په پاڼه 4 د 'تاسي له قانوني خدمتګار د پوښتنو کولو حق لرئ' عنوان لاندې وګورئ.

## يو ښه خدمتګار غوره کول

د مهاجرت په معاملو کي قانوني مشاور غوره کولو لپاره تر ټولو ښه طريقه دا ده چي هغه څوک انتخاب کړئ چي کار يې دولتي ادارو لخوا څارل کېږي. څارندوی اداري ګوري چي آيا د دوی تر څارني لاندې خدمتګاران د دوی د لوړو مسلکي معيارونو سره په سمون کي کار کوي که نه. لکه، يو قانوني خدمتګار بايد:

- تاسي سره **رښتيني وي،**
- **د ستاسي د غوره ګټي په لور ګام اخلي؛** او
- **د مهاجرت د قانون او عمل په اړه خپل علمم تازه** ساتي.

د او آی ايس سي سلاکاران، عادي وکيلان يعني سالسېټرز، بېرسټران او تصديق شوي قانوني استازي يعني چارټرډ ليګل اېګزېکټيوز مکلف دي چي د هغوی د څارني ادارو لخوا ټاکلي قواعد تعقيب کړي. که څه کيسه ورانه شوه نو د ستاسي حفاظت د څارني قواعد کوي. هغه خلک چي دولتي ادارو څارني لاندې نه دي، هغوی کېدې شي د مهاجرت قانون او عمل په اړه هېڅ يا لږ علم لري.

ځکه چي تاسي ته بل چي د کوم قانوني مشاور سپارښتنه کړی په دې مانا نه ده چي تاسي يې خامخا ونيسئ. داسي يو څوک غوره کړره چي دولت لخوا تصديق شوی وي، مسلکي اخلاقيات لري او د تاسي ته درناوی لري.

که تاسي نه پوهېږئ چي تاسي لپاره څوک غوره دی، نو د سلا مشوری دفتر يعني اېجنسۍ (چي د خېريه ټولنو او دولت لخوا پانګه ورکړل کېږي) ته ورشئ يا يو څو خدمت وړاندې کوونکو سره مخامخ خبرې ورکړئ تر څو پوهه شئ چي څوک به درله غوره وي. ځيني خدمت وړاندې کوونکي به لومړي ځل کتنه وړيا کوي خو بيا ځيني د لومړي ځل کتني پيسي هم اخلي.

د يو قانوني خدمتګار د موندلو لپاره پاڼه 6 وګورئ.

## حق لرئ چي قانوني خدمتګارانو نه پوښتني وکړئ

**له خپلو قانوني مشاورينو هر څومره غواړئ پوښتني وکړئ**، تر هغې چي تاسي ته وړاندي پرتو ټولو لارو، د لګښت په انتظاماتو او هر هغه څه چي پرې ځان خبرول غواړئ، باندي ځان پوهه کړئ. ډاډ وکړئ چي ايا يو غوره خدمت ورکوونکی انتخابولو لپاره تاسي سره بشپړ معلومات ترلاسه شوي که نه. تاسي پوښتلای شئ:

1. **ستاسي کار څوک څاري؟** بايد د ستاسي د قانوني خدمتګار کار د دولت د څارني -د او آی ايس سي، سايلکس، د عادي وکيلانو لپاره د څارني امريت (ايس آر اي) يا د د بار د معيارونو ساتني بورډ (بي ايس بي) لخوا د څارني لاندي وي.

2. **زما د قانوني خدمت د خرڅ په هکله آيا زه دولتي مالي مرسته يا کوم بل ډول مرسته ترلاسه کولای شم؟** يو ښه قانوني خدمتګار به تاسي نه پوښتنه او درسره به خبره کوي چي آيا تاسي قانونی وړيا مرسته ترلاسه کولای. **تاسي ته بايد د ښه کيفيت قانوني خدمت درکړل شي، قطع نظره له دې چي پيسي يې خپل جيب نه ورکوئ يا حکومت درته پرې کوي.** (که تاسي د 'عامه رسون' يو ښپرسټر ونيوه، نو تاسي تا قانوني مالي مرسته نه درکړل کيږي.)

3. **تاسي په څه څه او څومره پيسي اخلئ؟** ځيني خدمتګاران، لکه د عريضي جوړولو يا په محکمه کي ستاسي د نمايندګی په بدل کي، د خپلو خدمتونو پيسي د ساعتونو په حساب، او نور يي له مخي ټاکل قيمت اخلي. تاسي له خپل قانوني خدمتګار غوښتلای شئ چي پيسي په قسطونو يعني نيټو کي ورکړي (يعني د يوې مودې په اوږدو کي پيسي ورلنډې کړئ) - خو هر خدمتګار به داسي کولو ته غاړه کښېنږدي.

4. **د ستاسي حتمي بل به څومره وي؟ ايا کوم اضافي خرڅونه يي شته؟** يو ښه قانوني مشاور به تاسي ته په څرګنده تشريح کړي چي تاسي نه به کله او څه لپاره پيسي اخستل کيږي. يواځي هغه کار پيسي ورکړئ چي تاسي يي رضامندي ورکړئ ده. که د ستاسي قانوني خدمتګار نورې پيسي غواړي نو بايد ووايي چي څه لپاره. چي کله هم پيسي ورکوئ نو ترې رسيد خامخا اخلئ. تاسي حق لرئ چي د خپل بل په اړه شکايت ورکړي يا چيلنج کړئ.

5. **تاسي به سره څومره ډېر ځل اړيکه نيسي يا څه راليږئ؟ تاسي سره څرنګه اړيکه نيولای شم؟** يو ښه خدمت وړاندي کوونکی به تاسي ته ووايي چي کله او څومره ډېر به تاسي تماس نيسي، او د ستاسي د دوسيي په هره مرحله کي به تاسي خبر ساتي. که څه موده شوې چي تاسي له خپلو قانوني خدمتګار څه خبر نه دی ترلاسه کړی، نو وارخطا کيږي مه-ممکنه ده چي ستاسي دوسيې په اړه کوم څه نوي نه وي راغلي.

## خپل قانومي خدمت درکوونکي نه پيل کولو سره

تاسي بايد له پيله خپل قانوني خدمتګار سره رښتيني ووسئ او خبرې پټي نه کړئ. بايد دوی ته د ستاسي د کيس سره تړليو ټولو معاملو په اړه معلومات تر څو د ستاسي سمه مرسته درکړي. په ياد ولرئ: د ستاسي قانوني مشاور بايد د ستاسي لخوا ورکړل شوي ټول معلومات خفيه وساتي. خپل قانوني خدمت درکوونکي نه دا هم پوښتنه وکړئ چي د څه اسنادو اړتيا لرئ. دې سره به د ستاسي په دوسيه کي د ستونزو او ځنډونو مخنيوی وشي.

چي کله دوی تاسي لپاره کار پيل کړي، دوی بايد تاسي مرکزي او مهم معلومات درکړي، لکه:

- هغه کار چي دوی يي کول په غاړه اخستي،
- چي څرنګه او کله به تاسي پيسي ورکوئ، او
- که تاسي درکول کيدونکي خدمت نه خوښ نه ياست نو بايد څرنګه شکايت وکړئ.

ډېر وخت به د يو ليک په بڼه وي-ښپرسټر وکيلان او د او آی ايس سي تصديق شوي سلاکاران مکلف دي چي ليک درواستوي، خو عادي وکيلان يعني سالسيټرز اجازه لری چي دا معلومات په بله بڼه هم درکړي. حق لرئ چي د **خپلي دوسيي په هکله د ټولو اسنادو نقلونه وغواړئ**، په ګډون د هغه مشورو چي تاسي يي درکوي (که څه هم ځيني سلاکاران د دې پيسي هم اخلي).

يو ښه قانوني خدمت وړاندي کوونکي به:

- ✓ تاسي ته درناوی لري او ستاسي د حالت پوهه لري
- ✓ له تاسي د ستاسي د دوسيي په اړه اړوندې پوښتني وکړي او ستاسي خبرې به اوري
- ✓ تاسي ته د ستاسي په وړاندې پرتي لارې تشريح کړي او په سمه پرېکړه کولو کي د ستاسي مرسته وکړي
- ✓ تاسي سره په هره مرحله کي پر معاملاتو پوهه کي مرسته وکړي او تاسي په قانوني پروسه کي شريک وساتي
- ✓ بايد هر يوه پرېکړه درله تشريح کړي، چي څه مانه لری او مخکي بايد څه ګام واخستل شي
- ✓ د هغه ليکونو، اسنادو او عريضو نقلونه درکړي چي دوی تاسي لپاره کړي دي.

که کوم قانوني مشاور تاسي ته ووايي چي هغوی د ستاسي د دوسيي په نتيجه اغېز اچولي شي يا تاسي ته ځانګړی سفارش کولي شي نو په خبرو يي يقين مه کوئ يعني هغه دروغ وايي.

## که ما ته بې کیفیته قانوني خدمت راکړل کېږی نو څه وکړم؟

کله کله بنده په مشکله سره پوهېږي چې دا خو ناسم قانوني خدمت ورکړل کېږي. نو په دې هکله پرېکړه کې به له ځانه دا پوښتنې مرستندویه وي:

- آیا زما خدمتګار ما ته مشوره راکوي او آیا زما په حق کې غوره ګامونه پورته کوي؟
- ایا زما قانوني مشاور ما په داسې څه منلو مجبوره کوي چې ما ته احساسېږي چې سم کار نه دی؟
- له یوې خوا زما کیس په مخ وړاندې روان نه برېښي نو آیا زما قانوني مشاور فیس ډېر لوړ خو نه دی؟

ښه مشوره تل د قیمت سره نه وي تړلې. ډېر موسسې شته چې وړیا خو ښه قانونی سلاوې ورکوي، او د لوړ نرخ وکیل مانا دا نه ده چې خدمت به یې هم خامخا له نورو ښه وي. که تاسې خپل قانوني خدمت سره خوشاله نه یاست، نو دا کولای شئ:

- **شکایت.** تاسې، که د وکالت پیسې مو دولت پرې کوي که نه، حق لرئ چې خپل قانونی خدمتګار په اړه ګیله یعني شکایت وړاندې کړئ. تاسې کولای شئ چې د یو شمېر لاملونو له امله شکایت وکړئ، لکه کله چې خدمت ورکوونکی تاسې ته بده مشوره او/یا خدمت درکړي، یا تاسې نه له معقول حده زیاتې پیسې واخلي یا د هغه کار پیسې واخلي جې کړی یې نه دی.

  که تاسې د یو بېرسټر یا سالسټر په باره کې شکایت لګول غواړي، نو تاسې باید دا وکړئ:
  - دوی ته مستقیم شکایت ورکړه او دوی باید په اته اوونیو کې ځواب درکړي.
  - که تاسې ته د دې ځواب در نه کړل شي یا یې ځواب سره قانع نه یاست، نو تاسې قانوني محتسب یعني لیګل اومبډزمن ته په د هغوی په ویب سایټ یا په 03005550333 شکایت کولای شئ.

  د او ایس آی سي د سلاکار په ضد شکایت لپاره او ایس آی سي ته پخپله ورشئ یا یې ویب پاڼې ته ورشئ یا په 03450000046 باندې ټیلیفون وروکړئ.

  که داسې څوک قانونی سلاکار مو وموند چې د کار څارنه یې د او آی ایس سي لخوا نه کېږي، نو باید او آی ایس سي ته ورمعلوم کړئ یعې رپوټ پرې وکړئ.

- **خپل قانومي خدمتګار بدل کړه:** تاسې حق لرئ چې خپل قانوني خدمتګار په خپله خوښه بدل کړئ، خو په دې کې کېدې شي اضافي خرڅ دربانديې راشي او وخت هم زیات ولګي ځکه چې نوی خدمت وړاندې کوونکی باید ونیسي او بیا به هغوی د ستاسې کېس باندې ځان هم پوهوي. له دې وړاندې چې د ستاسې قانوني خدمتګار نوي خدمتګار ته د ستاسې اسناد وروسپارئ تاسې کېدې شي مجبوره یاست چې د پخواني قانوني خدمتګار پیسې ورلنډې کړئ.

  که تاسې د قانوني مالي مرستې په مټ قانوني مشورې ترلاسه کوي او غواړي وکیل بدل کړئ، نو تاسې به د وکیل بدلولو لپاره یو رسمي شکایت جمع کوئ. په ځینې ډول دوسیو کې د دې اړتیا وي - خو ټولو کې نه. چې کله یې هغوی نیسي نو خپل قانوني خدمتګار سره په دې وغږېږئ.